


**د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه**

**دارالانشاء**

**د اداري فساد پر وړاندې د زیانمننو د ارزونې څانګه**


# رپوټ

# د اداري فساد پر وړاندې د درملو د واردولو پروسې د زیانمننو ارزونه


**کابل**

**لېږم 1393**

# د محتویاتو لړلیک


**1. د رپوټ لنډیز** . **Error! Bookmark not defined.** ...............................

**2. پیژندنه** **Error! Bookmark not defined.** .............................

2.1. د زیانمننو په ارزونه کې د مالوماتو د راټولولو لاره ............................. **Error! Bookmark not defined.**

**3. د درملو د واردولو د پروسې د تقنیني اسنادو د زیانمننو ارزونه** .................... **Error! Bookmark not defined.**

3.1. د افغانستان د عامه تدارکاتو قانون (1387): ........................................................................ 4

3.2. د درملو قانون: ....................................................................................................... 4

3.3. د مجازو درملو لست: ............................................................................................... 4

3.4. د پروسې د تقنیني اسنادو د زیانمننو او سپارښتنو جدول: ................................ 5

**4. د تشکیلاتي جوړښت او انساني سرچینو د زیانمننو ارزونه** .......................... **Error! Bookmark not defined.**

4.1. د تشکیلاتي جوړښت د زیانمننو ارزونه ............................................ **Error! Bookmark not defined.**

4.2. د انساني سرچینو د زیانمننو ارزونه ................................................ **Error! Bookmark not defined.**

4.3. د درملو د واردولو پروسې د انساني سرچینو او تشکیلاتي جوړښت، زیانمننې او سپارښتنې: ................................. 6

**5. د درملو د واردولو د پروسې په مدیریت کې د حقیقي کړنو د زیانمننو ارزونه** .. **Error! Bookmark not defined.**

5.1. د پروسې پر مخ بیول: ............................................................................................. 7

5.2. د فارمسي په ریاست کې د بهرنیو درملو جوړونکو فابریکو ثبتول: ...................................................... 8

5.3. د فارمسي په ریاست کې د پروفورمې ثبتول: ................................................................................ 8

5.4. بهرنیو کمپنیو سره قرارداد لاسلیکول ............................................. **Error! Bookmark not defined.**

5.5. د درملو لیږد او د ګمرکي مرحلو پر مخ بیول ................................. **Error! Bookmark not defined.**

5.6. نمونه اخیستنه او د ګمرک د محصول تحویلول .................................. **Error! Bookmark not defined.**

5.7. د درملو د ارزښت ټاکل .............................................................. **Error! Bookmark not defined.**

5.8. بازار کې د درملو ویشنه ............................................................ **Error! Bookmark not defined.**

5.9. د پروسې د حقیقي کړنو د زیانمننو او سپارښتنو جدول: ...................... ...... 10

**6. پایله:** .................................................................. 11

## 1. د رپوټ لنډيز

د درملو د واردولو په پروسه کې د اداري فساد پر وړاندې د زيانمننو ارزونه په نوموړې پروسه کې د فساد د شته موکو د پيژندنې په موخه په لاره اچول شويده. د پروسې د حقوقي چوکاټ، تشکيلاتي جوړښت، انساني سرچينو او کاري کړنلارو په تړاو د بيلابيلو سرچينو څخه مالومات راټول شوي او وروسته تر ارزونې او شننې د فساد پر وړاندې د نوموړې پروسې، زيانمننې تشخيص شويدي. د دې سربيره پدې رپوټ کې د زيانمننو د له منځه وړلو په موخه سپارښتنې هم وړاندې شويدي.

د دې رپوټ موندنې دا ښيئ چې د درملو د واردولو په پروسه کې د فساد شته موکې، په بازار کې د بې کيفيته درملو د زياتيدو لامل ګرځيدلې او د درملو د خدمتونو د وړاندې کولو کيفيت او د څارنه يې په اړوندو ارګانونو کې د وړتيا د نشتوالي له امله اغيزمن کړيدی.

## 2. پيژندنه

باکيفيته درملو ته د ټولو لاسرسی د عامه روغتيا د ساتنې په چارو کې يو اړين ګام ګڼل کيږي. د افغانستان په څير غريبو هيوادونو کې، د نورو لمړنيو توکو د اړتيا تر څنګ باکيفيته درملو ته لاسرسی هم اړين دی. خو له بده مرغه د درملو محصولاتو ته د زياتې اړتيا او د دې لارې د ګټې د لاسته راوړلو اسانه موکو د شتون له امله، بې کيفيته درمل په غيرقانوني بڼه افغانستان ورادېږي. د روغتيا د ملي حسابونو د ۲۰۱۲-۲۰۱۱ کال د رپوټ پر بنسټ په افغانستان کې د درملو د لګښت کلنی کچه ۳۹۰ مليونه ډالره اټکل شويده خو خصوصي سکتور زياتوي چې په ۲۰۱۳ کال کې د درملو د لګښت کچه ۸۰۰-۷۰۰ مليونه ډالرو ته رسيږي چې ۵۰٪ يې په قاچاقي ډول واردېږي.

سره لدې چې د درملو د واردولو پروسې اړوند حقوقي چوکاټ جدي بياکتنې ته اړتيا لري، بيا هم په پروسه کې يو لړ کړنلارې شته دې چې که په سم ډول پلي شي کولای شي د بې کيفيته درملو د واردولو مخه ونيسئ. خو د فساد د شتون له امله په افغانستان کې ډيری قوانين او مقررات په سم ډول نه پلي کيږي.

بې له شکه، د بهرنيو درملو جوړولو کمپنيو د ثبت، د پروفورمې ثبت او د کيفيت د کنټرول په ګډون د درملو د واردولو د پروسې ډيرې مرحلې د فساد پر وړاندې زيانمنې دي. په ناقانونه توګه د درملو د واردولو څخه د زياتې ګټې لاسته راوړل او د ناقانونه کړنو په مخنيوي کې د اړوندو ارګانونو پاتې راتلل، د درملو د قاچاق د ډيريدو مهمې انګيزې دي.

د بيلګې په توګه، په بازار کې موجود ۶۰٪ درمل د پاکستان ميشتو کمپنيو لخوا توليديږي،لدې څخه په زغرده معلوميږي چې په پاکستان کې د درملو جوړولو کمپنيو زياتوالی په افغانستان کې د بې کيفيته درملو واردولو د شته موکو سره نيغ په نيغه اړيکه لري. د زياتو پيسو د لاسته راوړلو له امله نوموړې کمپنۍ د پاکستان د معيارونو پيروي نه کوي او بې کيفيته درمل د افغانستان لپاره د يوازې د افغانستان لپاره، تر نامه لاندې توليدوي. سربيره پر دې چې په نړيوال اقتصادي نظام کې دا يو منل شوی اصل دی خو د افغانستان د درملو جوړولو او واردولو مقررې[1]سره په ټکر کې واقع دی.

د څارنې او ارزونې کميټې(MEC) د نوموړې پروسې اهميت ته په پام، د اداري فساد پر وړاندې د زيانمننو د پيژندنې څانګه(VCA) پدې وګمارله چې په ياده پروسه کې د اداري فساد شته موکې وارزوئ. د دې پروسې د ارزونې پايلې او د فساد د له مينځه وړلو لارې چارې به په پروسه کې د ښکيلوکارې غاړو په ځانګړې ډول د عامې روغتيا وزارت د فارمسۍ رياست سره شريکې شي تر څو هيواد ته د باکيفيته درملو د واردولو په چارو کې کوټلې ګامونه پورته کړئ. د اداري فساد پر وړاندې د زيانمننو ارزونه د پروسې لاندې درې ساحې رانغاړي.

- حقوقي چوکاټ
- تشکيلاتي جوړښت او انساني سرچينې

---

۱. د درملو د جوړولو او واردولو د مقررې ۳ او ۶ فقرې پر بنسټ د درملو جوړونکې بهرنۍ کمپنۍ بايد د هيواد په دننه او د باندې يو شان کيفيت لرونکې درمل جوړ او افغانستان ته صادر کړي همدارنګه ۶ فقره پدې زور اچوي چې درمل بايد يوازې د افغانستان لپاره جوړ نشي بلکه کمپنۍ بايد لږ تر لږه يوه بل هيواد ته هم صادرات ولري.

- د پروسې حقيقي کړني

د يادولو وړ ده چې د ارزونې پلاوي د واردولو څخه وروسته په بازار کې د درملو د ويشنې پروسه هم ارزولې ده چې د پالیسۍ له پلوه د واردولو د پروسې په پرتله ډيرې زيانمنې پکښې موندل شويدي. خو څرنګه چې د ارزونې اصلي پام د درملو د واردولو په پروسه دی نو ځکه د ارزونې ډيرې سپارښتنې به د درملو د واردولو پروسه خپله موخه وګرزوي.

### 2.1. د اداري فساد پر وړاندې د زيانمننو په ارزونه کې د مالوماتو د راټولولو لار

د مالوماتي سرچينو محدوديت د اداري فساد پر وړاندې د زيانمننو پيژندنه محدودوي او د ارزونې پايلې د خطاء سره مخامخ کوي، نو پر دې بنسټ د ارزونې پلاوې خپلې مالوماتي سرچينې پراخه طرحه کړې چې په لاندې ډول دي:

- د پروسې اړوند د حقوقي او اداري اسنادو او پدې اړه د خپرو شوو رپوټونو عمومي مطالعه
- په پروسه کې د ښکيلو او مهمو چارواکو سره ځانګړې غونډې
- په پروسه کې د ښکيلو کارکونکو او خصوصي سکتور سره ځانګړې او ډله ايزې مرکې
- د پلازميني او ولايتونو په کچه د کړنلارو او حقيقي کړنو، نيغ په نيغه کتنه

## 3. د درملو د واردولو پروسې د حقوقي چوکاټ ارزونه

د درملو د واردولو پروسې حقوقي چوکاټ د عامې روغتيا د قانون، د تدارکاتو قانون او په ځانګړي ډول د درملو د قانون او د درملو د طرزالعمل څخه جوړ شويدی. په نوموړي چوکاټ کې يو شمير جدي نيمګړتياوې شتون لري چې کولای شي د درملو د واردولو پروسه د فساد پر وړاندې زيانمنه کړي. يادې نيمګړتياوې په لاندې ډول دي:

### 3.1. د افغانستان د عامه تدارکاتو قانون (1387):

د ارزونې د پلاوي موندنې دا په ډاګه کوي چې د تدارکاتو قانون د باکيفيته درملو د غوره کولو لپاره ځانګړي معيارونه نه لري. د نورو توکو په څير درمل هم د ښکته بيې پر بنسټ رانيول کيږي او کيفيت په پام کې نه نيول کيږي. د اړوند ادارو د تدارکاتو کارکونکي زياتوي چې که چيرې باکيفيته درمل راونيسي او بيه په پام کې ونه نيسي نو د څيړونکو او څارنوالانو لخوا تر څيړنو لاندې نيول کيږي. دا کار د دې لامل شوی چې له يوه پلوه بې کيفيته درمل راونيول شي او له بله پلوه د باکيفيته درملو د غوره کولو په صورت کې د څارنوالانو او څيړونکو لپاره د بډو د غوښتنې موکه برابره شي.

### 3.2. د درملو قانون:

دا قانون د درملو د غوره کولو، جوړولو، واردولو، ويشنې، غوره ګټې اخستنې او نورو اړوند چارو د تنظيم په موخه وضع شويدی. دا قانون هغه وخت وضع شوی چې د درملو محصولاتو ته د عامه خلکو لاسرسی، د هيواد لمړی درجه لومړيتوب ؤ او اړتيا وه چې د درملو د واردولو په پروسه کې يو لړ اسانتياوې په پام کې ونيول شي. خو په بازار کې د بې کيفيته درملو ډيروالي ته په پام، نوموړی قانون بياکتنې ته اړتيا لري.

د ارزونې د پلاوي موندنې ښيئ چې دا قانون، سوداګرو ته د درملو د واردولو د ډيرو اسانتياو برابرولو سربيره يو لړ نورې نيمګړتياوې د بيلګې په توګه د ګټو د تضاد د يوه ځانګړي تعريف نشتون، هم لري چې د عامې روغتيا وزارت او فارمسي رياست کارکونکي کولای شي د دې موکې څخه ګټه پورته کړي. د ارزونې موندنې دا په ګوته کوي چې د عامې روغتيا وزارت يو شمير کارکونکي په مستقيمه يا غيرمستقيمه توګه د درملو د واردولو شرکتونو سره سوداګريزې اړيکې لري. د ارزونې د پلاوي د مالوماتو پر بنسټ نوموړی قانون اوسمهال تر بياکتنې لاندې دی. تمه ده چې د دې ارزونې موندنې د نوموړي قانون په تعديل کې په پام کې ونيول شي.

### 3.3. د مجازو درملو لست:

د مجازو درملو لست د درملو په اړه د کره مالوماتو د وړاندې کولو، د درملو جوړولو، واردولو، ويشلو او لګښت د بهير د کنترول په موخه چمتو شويدی. د درملو د قانون د پنځمې مادې دوهمې فقرې پر بنسټ بايد نوموړی لست په هرو دريو کالو کې يوه پلا وکتل او نوی شي، خو له بده مرغه له اوو کالو راهيسې دا لست ندی نوی شوی. د لست د هر اړخيزوالي

سربیره هر کال لږ تر لږه ۵۰ څخه تر ۶۰ قلمه نوي درمل د درملو د بورد د پریکړې پر بنسټ، افغانستان ته واردیږي. د مرکو څخه د لاسته راغلو مالوماتو پر بنسټ، دغه کار د عامې روغتیا وزارت کارکونکو ته د فساد موکه په لاس ورکړې.
د یادولو وړ ده چې د عامې روغتیا وزارت پدې وروستیو کې نوموړی لست نوی کړیدی او په نږدې راتلونکي کې به چاپ او خپور شي.

**3.4. د حقوقي چوکاټ زیانمنني په لاندې جدول کې خلاصه شویدي:**

| زیانمن موارد | زیانمننه | د زیانمننو پایلې | سپارښتنې |
|---|---|---|---|
| د افغانستان د عامه تدارکاتو قانون | -د قانون عمومیت او د درملو د تدارک په اړه د ځانګړو معیارونو نه په پام کې نیول<br>-د درملو د تدارک په اړه د یوه ځانګړي طرزالعمل نشتوالی | -د درملو د تدارکاتو د معیارونو محدودیت، په مناسبه بیه د بې کیفیته درملو د رانیولو لپاره موکه برابره کړیده.<br>-په لوړه بیه د باکیفیته درملو د رانیولو په صورت کې، ځیرونکو او څارنوالانو ته د کارکونکو څخه د بډو اخستو موکه په لاس ورځي. | -په مناسبه بیه د باکیفیته درملو د رانیولو او غوره کولو په موخه د درملو لپاره د یوه ځانګړي طرزالعمل چمتو کول |
| د درملو قانون | -ټولو اړخونو ته د درملو د قانون نه شمولیت او نیمګړتیاوو، د درملو د واردولو پروسه آسانه کړیده او ناوړه ګټې اخستنې ته یې موکه برابره کړیده.<br>-نوموړی قانون د درملو په امورو کې د ګټو تضاد نه رانغاړي او دولتي کارکونکو لپاره یې د ناوړه ګټې اخستنې موکه برابر کړیده. | - په قانون کې د شته اسانتیاوو څخه په ګټې اخستنې، سوداګر کولای شي د بې کیفیته درملو په واردولو زیاته ګټه تر لاسه کړي.<br>-قانون د کارکونکو او سوداګرو تر منځ د سوداګریزو اړیکو ټینګولو لپاره موکه برابره کړیده. | -د درملو د قانون سمون باید د هیواد په کچه، د درملو د امورو ټول اړخونه معیاري کړي.<br>-د قانون سمون باید د سوداګریزو شرکتونو سره د دولتي کارکونکو د سوداګریزو اړیکو د ټینګولو او ګټو د تضاد مخنیوی وکړئ. |
| د مجازو درملو لست | -د اوو کالو راهیسې د لست نه نوي کول | -د لست نه نوي کول د لست څخه د باندې درملو د واردولو په صورت کې د دولتي کارکونکو لپاره د بډو اخستو موکه برابره کړیده. | -د تجربې او د ناروغتیاو د ډولونو او ضرورت وړ درملو په پام کې نیولو سره، د مجازو درملو د لست نوي کول تر څو وکولای شي د لست څخه د باندې درملو د واردولو څخه مخنیوی وکړئ. |

**4. د تشکیلاتي جوړښت او انساني سرچینو زیانمنني**

د عامې روغتیا وزارت په چوکاټ کې د فارمسي او روغتیایي قوانینو د پلي کولو د څارنې ریاستونه، د درملو د امورو د سمبالولو او د درملو د واردولو پروسې د څارنې دنده په غاړه لري. په نوموړي وزارت کې نورې ځانګې متفاوتې دندې په غاړه لري. د بېلګې په توګه، د کیفیت د کنترول ریاست د درملو د کیفیت د ارزولو دنده په غاړه لري او د وزارت د چوکاټ څخه د باندې د سوداګرۍ وزارت د جوازنامو ریاست، د سوداګرۍ د جواز د ورکولو او د مالیې وزارت د ګمرکونو ریاست د ګمرکي مرحلو د پر مخ بیولو دندې په غاړه لري.

د ارزونې پلاوي د موندنو پر بنسټ، د فارمسي ریاست او عامې روغتیا وزارت نورو اړوندو څانګو تشکیلاتي جوړښت او انساني سرچینې د فساد پر وړاندې ډېرې زیانمنني لري. د روغتیا د نړیوال سازمان په رپوټ کې د نوموړې پروسې یو

شمیر جوړښتیزې نیمګړتیاوې په ګوته شویدي او د تشکیلاتي جوړښت او کارکونکو د ښکته وړتیا په نیمګړتیاو باندې زیاته پاملرنه شویدی.

### 4.1. د تشکیلاتي جوړښت زیانمنني

د فارمسي ریاست اوسنی تشکیل په اصل کې د درملو د چارو د یوې کوچنۍ برخې( د درملو واردولو)، د مدیریت لپاره طراحي شوی ؤ او د درملو د واردولو د یوې لویې او په چټکتیا پراخیدونکې پروسې د مدیریت او څارنې لپاره ګټور ندی. د فارمسي ریاست د پروسې د مدیریت او د بازار څخه د څارنې په برخه کې د مسلکي کارکونکو د کمښت سره مخ دی. جوړښتیزې نیمګړتیاوې چې په نوموړې ریاست کې د څارنیزې وړتیا د کمښت لامل ګرځیدلي، د درملو د واردولو پروسه یې د فساد پر وړاندې زیانمنه کړیده او خصوصي سکتور او د وزارت کارکونکو ته یې موکه په لاس ورکړې چې د نوموړې کمزورۍ څخه ناوړه ګټه پورته کړي.

د دندو د روښانه لایحو او اړینې همغږۍ نشتون او د دندو تداخل هغه ستونزې دي چې د څارنې په برخه کې یې زیانمننه، زیاته کړیده. د اړوندو ادارو کارکونکي د اړینې همغږۍ د نشتون له امله، د هغو دندو د ترسره کولو په بدل کې چې د دوی د دندو په لایحو کې نشته، د مراجعینو څخه پیسې تر لاسه کوي.

د یادولو وړ ده چې د فارمسي ریاست په تشکیلاتي جوړښت کې شته ستونزو، په اصلاحي کوښښونو پرده غوړولې ده د بیلګې په توګه، د نړیوالو سازمانونو د ترسره شوو ارزونو د سپارښتنو پر بنسټ د عامې روغتیا وزارت دوه مهم سندونه، د فارمسي سکتور د انساني سرچینو ملي چوکاټ(۱۳۹۶-۱۳۹۲ پورې) او د فارمسي خدماتو لپاره د وړتیا ملي چوکاټ چمتو کړه. د نوموړو اسنادو ستراتیژیکي خپروني د وړتیا د ودې په برخه کې اغیز لرلای شي خو په تشکیلاتي جوړښت کې شته ستونزې نشي اوارولای.

### 4.2. د انساني سرچینو زیانمنني

د تشکیلاتي جوړښت د کمزورتیا سربیره چې د پروسې کړنې او څارنیزه وړتیا یې اغیزمنه کړیده، نوموړې اداره د مسلکي او لوستو کدرونو د کمښت سره مخ ده. هغه بنسټیز لاملونه چې د مسلکي کدرونو په ګمارلو کې مرسته کولای شي د کافي معاشونو درلودل، د فارمسي اداري او فارمسستانو کدري کول، د ګمارنې د پروسې د روڼتیا ډاډمنول او د فارمسي په پوهنځیو کې د کوریکولم او ښوونیزو خپرونو د سمون څخه عبارت دي. شته زیانمننو ته په پام، د عامې روغتیا وزارت لپاره اوسمهال دا ستونزمنه ده چې د فارمسي وړ او لوستي کارکونکي جذب او وګماري. د لوستو او باتجربه کارکونکو نشتون به پروسه د فساد پر وړاندې لانوره زیانمنه کړي. د نوموړې پروسې یو شمیر زیانمنني چې د ارزونې په وخت کې پیژندل شویدي په لاندې ډول دي:

### 4.3. د انساني سرچینو او تشکیلاتي جوړښت زیانمنني او د سمون لپاره یې سپارښتنې

| زیانمن موارد | زیانمننه | د زیانمننو پایلې | سپارښتنې |
|---|---|---|---|
| د فارمسي ریاست تشکیلاتي جوړښت | - د دندو د کچې او د درملو د واردولو پروسې د کار سره د تشکیلاتي جوړښت نابرابري | - د پروسې د کار او بازار څخه د څارنې کراروالی<br>- په سم ډول د پلان، د درملو د کیفیت د بهترولو ستراتیژیو او د فساد څخه د مخنیوې، خپرونو نه پلې کول<br>- په بازار کې د درملو د کیفیت او حجم په کنترول، نه توانیدل | - د کار د کچې سره د برابروالي په پام کې نیولو سره، د فارمسي ریاست د تشکیلاتي جوړښت تعدیلول او د بازار څخه د څارنې ځانګې د کارکونکو زیاتول. |
| د پروسې په مدیریت کې د ښکیلو غاړو تر منځ همغږي | - په پروسه کې د ښکیلو ادارو تر منځ د دندو تداخل<br>- بدګماني او د اړینې همغږۍ کمزورتیا | - ناوړه ګټې اخیستنې ته د موکې برابریدل<br>- په دنده کې ناغیري او د مسولیت نه منل | - د درملو په امورو پورې د تړلو ادارو کړنو او د رامنځته کولو موخې ته په پام، د دوی د دندو تخصصي کول او بیاکتنه<br>- د اغیزناکه څارنې او بهترو خدماتو د وړاندې کولو په موخه، په پروسه کې د ښکیلو ځانګو تر منځ د همغږۍ د |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | رامنځته کولو او د مالوماتو د تبادلي، یو میکانیزم رامنځته کول. |
| د فارمسي په ریاست کي، مسلکي انساني سرچيني | - د فني وړتیا کموالی،<br>- د ګمارني په پروسه کي د روڼتیا کمښت<br>- کم معاشونه او د فارمسي ریاست د بستونو نه کدري کیدل | - د کارکونکو ناغیري او د دندو سره کمه لیوالتیا<br>- د ګمارني په پروسه کي مداخله او د ناوړه نفوذ څخه ګټه پورته کول<br>- د درملو د شرکتونو څخه د غیر رسمي امتیازونو تر لاسه کول<br>- د بډو د غوښتلو شونتیا | - د مسلکي کچي په پام کي نیولو سره فارمسستانو ته د حقوقو او امتیازاتو ورکول او فارمسستانو ته د پرمختګ موکه برابرول.<br>- د ګمارني د پروسي ډاډمنول.<br>- اوسنیو شرایطو ته په پام، د فاکولتي د کوریکولم او درسي موادو نوي کول. |

## 5. د درملو د واردولو، د هیواد په دننه کي د جوړولو او ویشلو د پروسو، حقیقي کرني

### 5.1. د پروسي د کاري بهير بشپړول:

د یادي پروسي پراوونه په لاندي چوکاټ کي توضیح شویدي:




وړاندي تر دي چي د درملو د واردولو شرکتونه د عامي روغتیا وزارت ته د درملو د واردولو د جواز د تر لاس کولو په موخه مراجعه وکړي باید د سوداګرۍ وزارت د جوازنامو د ریاست څخه د سوداګرۍ جواز تر لاسه کړي. د جواز د شتون په صورت کي، که چیرې نوموړی شرکت د قانون غوښتني پوره کړي وي نو د فارمسي ریاست ورته د درملو د واردولو جواز ورکوي. د درملو د واردولو شرکت د ثبتولو پروسه د غوښتنلیک څخه پیل د جواز د تر لاسه کولو پورې،۴۴ پراوونه لري چي هر پراو کیدای شي په یوه بڼه د فساد پر وړاندي زیانمن وي.

د ارزوني د پلاوي موندني ښيئ چي اوږد او مغلق کاري پروسیجر، د مراجعینو د حیرانتیا لامل ګرځیدلی؛ خو سربیره پر دي په زیات شمیر کي جوازونه شرکتونو ته ویشل شویدي، تر دي پورې چي یو شمیر شرکتونه درمل نه واردوي او د جواز څخه د نړیوالو مؤسسو او دولتي لویو قراردادونو په بولیو کي ګټه پورته کوي.

يو شمير شنونکي پدې باور دي چې د درملو په سوداګرۍ کې ښکيل زيات شمير کسان په لوړ پوړو چارواکو او زورواکو په ځانګړې ډول وزيرانو او د ولسي جرګې په استازو پورې تړاو لري. د ارزونې موندنې هم دا ادعا تاييدوي او دا په ګوته کوي چې ډيری دا شرکتونه د لوړپوړو دولتي چارواکو د ملاتړ څخه برخمن دي.

### 5.2. د فارمسي په رياست کې د درملو جوړولو بهرنيو کمپنيو ثبتول:

د سوداګرۍ وزارت د جوازنامو د رياست او د فارمسي رياست څخه د جوازونو د تر لاسه سربيره بيا هم واردونکي شرکت نشي کولای چې د هرې بهرنۍ کمپنۍ څخه چې زړه يې وغواړي، درمل وارد کړي؛ بلکه بهرنۍ کمپنۍ به لا د وړاندې په فارمسي رياست کې ثبت وي. پداسې حال کې چې د بهرنيو کمپنيو ثبتول د ټيټ کيفيت درملو د واردولو سره د مبارزې پر وړاندې يو مهم پړاو دی خو د ارزونې د پلاوي موندنې ښيئ چې د کمپنيو د ثبتولو په چارو کې بې باکانه چلند، د معيارونو او ستندردونو نه په پام کې نيول، د ثبت لپاره د يوه ټاکلي حد نشتون، د درملو په سوداګرۍ کې بې حده ګټه او د بهرنيو کمپنيو د ارزونې لپاره د باتجربه کارکونکو نشتون، د دې لامل ګرځيدلي چې بې شميره بهرنۍ کمپنۍ ثبت شي.

د دې سربيره، په پروسه کې حتی د قوانينو د لومړنيو شرايطو نه په پام کې نيول د بيلګې په توګه، په ملي ژبو د درملو د لاربنود او ليبل شتون، افغانستان ته د درملو د واردولو په چارو کې د سوداګرو او شرکتونو د ليوالتيا د ډيريدو لامل ګرځيدلي.

اوسمهال د ۴۵۰ څخه ډيرې بهرنۍ کمپنۍ افغانستان ته د درملو د واردولو جواز لري چې د ۳۰۰-۲۵۰ پورې يې په عملي ډول افغانستان ته درمل واردوي. د يادولو وړ ده چې ډيری دغه کمپنۍ په پاکستان کې ميشتې دي او هغه محصولات چې افغانستان ته يې صادروي خاص د افغانستان لپاره جوړيږي او په پاکستان کې د خرڅلاو حق نلري. په پرتليزډول هندوستان د ۱/۳ بليون نفوس په لرلو يوازې ۹۳ د درملو جوړولو ثبت شوې بهرنۍ کمپنۍ لري.

### 5.3. د فارمسي په رياست کې د پروفورمې ثبتول:

د پروفورمې ثبتول( د توکو د واردولو اجازه نامه) د درملو د واردولو لومړنی او مهم پړاو بلل کيږي چې د فساد لپاره ډير مساعد دی. دا پړاو نور فرعي پړاوونه؛ د بيلګې په توګه د پروفورمې د ثبت د اسنادو ليږل د جوازونو د صادرولو مديريت ته د اسنادو د ارزونې او د درملو فني بورد ته د چمتو کولو په موخه رانغاړي. د درملو سوداګر پدې باور دي چې نوموړې پروسه ډيره اوږده ده او د دې لامل ګرځي چې سوداګر افغانستان ته درمل په غيرقانوني او قاچاقي ډول وارد کړي. د دې سربيره هغوی پدې باور دي چې د عامې روغتيا وزارت د لوړپوړو چارواکو د لاسوهنۍ پرته، ناشونې ده چې سوداګر پروفورمه ثبت کړي. نو پر دې بنسټ هغه شرکتونه چې د لوړپوړو چارواکو سره اړيکې لري، د فوق العاده امرونو په ترلاسه کولو سره کولای شي چې حتی د مجازو درملو د لست څخه د باندې درمل هم وارد کړي.

يوه د مهمو زيانمننو څخه د فارمسي په رياست کې د اړينو او لومړيتوب لرونکو درملو په اړه د يوه منظم پلان نشتون په ګوته شوی. دې کار له يوې خوا د فارمسي په رياست کې درغلو کارکونکو ته د ناوړه ګټې اخيستنې او فساد زمينه برابر کړې او له بلې خوا يې سوداګرو ته د پروفورمې د ثبتولو د قانوني پړاوونو څخه د تيښتې موکه برابره کړيده. د دې سربيره د پلان نشتوالې په يو شمير مواردو کې د بيلګې په توګه، د ځانګړو احکامو د ترلاسه کولو د لارې د درملو د فني بورد په پريکړو کې ؛ د لوړپوړو چارواکو د لاسوهنې لپاره لار پرانيستې ده.

د ارزونې د پلاوي موندنې ښيئ چې په فارمسي رياست کې د ډيټابيس او الکترونيک سيستم او له بازاره د يوه منظم رپوټ اخيستنې ميکانيزم د نشتوالې له امله، درمل په بې اندازې ډول هيواد ته واردېږي. د درملو د اندازې او مصرف څخه يوه منظمه رپوټ اخيستنه او د راټولو شوو مالوماتو څخه د پروفورمې د ثبتولو په وخت کې ګټه اخيستنه، کولای شي د پروفورمې د ثبت د پروسې د زيانمننو په کمولو کې مهم رول ولوبوي چې اوسمهال د پلان د پلي کولو لپاره کوم ميکانيزم شتون نلري.

### 5.4. د بهرنۍ کمپنۍ سره د قرارداد لاسليک

د بهرنيو کمپنيو سره د داخلي شرکتونو د قرارداد لاسليکولو پړاو زيانمنني کولای شو د جواز د صادرولو او پروفورمې د ثبتولو په پړاوونو باندې د کلک کنترول له لارې، په بې ساري ډول کمې کړو. دا ټول ميتودونه که په سم ډول پلي شي د کيفيت څخه د ډاډمنيدو لامل ګرځي او که په پام کې ونه نيول شي نو د درملو د کيفيت څخه د څارنې توان به اغيزمن شي.

په پایله کې ویلای شو چې د بهرنیو کمپنیو سره د داخلي شرکتونو د قرارداد تړلو پړاو د فساد پر وړاندې ډېر زیانمن دی. د پیرودلو په بیل کې د درغلۍ امکان شتون لري او دا کار کمپنیو ته دا موکه په لاس ورکوي چې د مالیې څخه د تیښتې په موخه د خپلو سوداګریزو توکو ارزښت کم وښیئ.

### 5.5.د درملو لیږد او د ګمرکي پړاوونو تیرول

دا پړاو په لاریو کې د درملو بارول، د پولې څخه تیرول او د ګمرکي پړاوونو تیرول رانغاړي. د نوموړي پړاو مهمې زیانمنني، د ستندردونو سره د لاریو نه برابروالی او د ګرمې او سړې هوا څخه د درملو د ساتنې په موخه په اړینو سامان آلاتو د لاریو نه سمبالیدنه ده. د ارزونې د پلاوي د نیغ په نیغه کتنې پر بنسټ، د درملو د لیږد ډیری وسایل په اړینو سامان ألاتو سمبال ندي چې دا کار د درملو د له منځه تلو لامل ګرځي.

د درملو د لیږد لاره د هغو سیمو(ننګرهار،قندهار،هرات) څخه تیریږي چې د اوړي په موسم کې ډیری وخت د تودوخې درجه د سانتي ګرید د ۴۰ درجو څخه پورته وي او په ګمرکونو کې د ستندردو ګودامونو او سړوخونو نشتوالی او پدې ګودامونو کې د ۱۵ ورځو په شاوخوا کې د درملو ذخیره کول، د درملو د له منځه تلو لامل ګرځي؛ چې دا کار د دې سبب کیږي چې شرکتونو په هر قیمت چې وي د درملو د لیږد پروسه ګړندی کړي. د یادولو وړ ده چې دا زیانمننه د څارونکو د بې باکۍ او په شرکتونو باندې د ستندردونو د نه پلي کولو له امله رامنځته شوي.

د لارې په اوږدو کې د سرحدي پولیسو لخوا د لاریو څخه د بډو اخیستل، د قاچاق په توګه په پروفورمه کې د ثبت شوو درملو څخه د زیاتو درملو واردول، په ګمرکونو کې غیرمسؤلانه او اجمالي تشریح، د رسمي بندرونو د لارې د قاچاق مخنیوې لپاره د قوي څارنې نشتوالی او د ګمرکونو د مالیې څخه تیښته، د نوموړي پړاو یو شمیر نورې زیانمنني دي. په ګمرکونو کې د توکو په سم ډول نه تشریح کول او په یو شمیر ولایتونو(قندهار) کې د سیمه ایزو چارواکو سره د هوکړې د لارې، په مستقیم ډول په شخصي ګودامونو کې د درملو خالي کول، یو لړ نورې زیانمنني په ډاګه کوي. د درملو د کیفیت د ارزونې او د مجازو درملو د پیژندنې لپاره په ګمرکونو کې د مسلکي کارکونکو او لابراتوارونو نشتوالی په نوموړي پړاو کې یوه بله ستونزه ده چې کولای شي فساد ته موکه برابره او شرکتونه درمل د رسمي پولو د لارې قاچاق کړي.

### 5.6.نمونه اخیستنه او د ګمرکي محصول تحویلول

په دې پړاو کې د فارمسي ریاست له لوري یو پلاوی ټاکل کیږي او نوموړی پلاوی په ګمرک کې د درملو څخه نمونه اخلي او د کیفیت د کنترول ریاست ته یې استوي؛ د کیفیت د کنترول ریاست درمل معاینه کوي او د پایلو ریپوټ یې د فارمسي ریاست او بیا ګمرک ته لیږي.

د نمونې اخیستنې په پړاو کې هم ګڼې ستونزې شتون لري چې له دې ډلې د سوداګرو سره جوړښت او د غیرفني نمونې اخیستنه، په لاره کې د نمونې بدلول، د لابراتوار په پایلو کې درغلي، د نمونې اخیستنې په اړه د یوه طرز العمل نشتوالی، د نمونې اخیستنې په بهانه د ډیرو توکو اخیستل، د لابراتوار د کارکونکو ټیټه وړتیا او په ځینو حالاتو کې د درملو د کیفیت په مالوملو کې پاتې راتلل، په لابراتوار کې د نمونې بدلول او د سوداګرو سره د لابراتوار د کارکونکو نیغ په نیغه اړیکې، د یادولو وړ دي.

یو شمیر سوداګر زیاتوي چې په ګمرک کې د لابراتوار د پایلو د تسلیمولو ځانګه ډیری وخت په پایلو کې درغلي کوي او داسې ښیئ چې درمل د کیفیت د کنترول د ریاست لخوا منفي ارزول شویدي او په بازار کې د خرڅلاو اجازه نلري؛ پداسې حال کې چې اصلي سند مثبت وي او وروسته د بډو د تر لاسه کولو څخه یې سوداګرو ته ورکوي.

### 5.7.د قیمت ټاکل

د وارد شوو درملو قیمت د یوې دوه مرحله ایزه پروسې په لړ کې ټاکل کیږي؛ د ګمرکي پړاوونو د تیرولو څخه وروسته، واردونکی شرکت د فارمسي ریاست څخه رسمي غوښتنه کوي چې د درملو د خرڅلاو قیمت وټاکي. د فارمسي ریاست شرکت د قیمت ټاکنې ځانګې ته استوي؛ د قیمت ټاکنې ځانګه د قیمت اینودنې ټول اړین اسناد( پروفورما، د پیرودلو بیل، د لیږد د لګښت بیل، اداري لګښتونه او د شرکت لپاره ۱۰ سلنه ګټه) یو ځای او راټولوي او د قیمت د ټاکنې په موخه یې د محاسبې ځانګې ته استوي.

د عامې روغتيا وزارت د کارکونکو د مالوماتو پر بنسټ، د پيرودلو په بيل کې درغلي د بيل د قيمت د سپينولو لپاره د يوه ميکانيزم د نشتوالی او د څارنې د کمزورتيا له امله نومورې پړاو د فساد پر وړاندې زيانمن کړيدی.

## 5.8. په بازار کې د درملو ويشنه

هغه زيانمننې چې پدې پړاو کې پيژندل شويدي، عبارت دي له: په درملتونونو کې د قوانينو د غوښتنو سره سم د معيارونو او ستندردونو نه په پام کې نيول، د تودوخې په مناسبه درجه کې د واکسين او نورو درملو نه ساتل، په درملتونونو کې د هوا د کافي جريان نشتوالی، د نرخنامې نشتوالی، د تاريخ تيرو درملو خرڅول، د ډاکټر د نسخې پرته د درملو خرڅول او په درملتونونو کې د فني کسانو(فارمسستانو) نشتوالی. دا ټول کيدای شي د کافي څارنې د نشتوالي او د عامې روغتيا وزارت د څارونکو او سوداګرو د جوړښت له امله رامنځته شوي وي.

## 5.9. د حقيقي کړنو زيانمننې کولای شو په لاندې جدول کې خلاصه کړو:

| د پروسې پړاونه | زيانمننې | د زيانمننو منفي آغيزې | سپارښتنې |
|---|---|---|---|
| د داخلي شرکتونو د جواز ثبتول او صادرول( د فارمسي عمومي رياست) | -د درملو واردولو د جواز د صادرولو پروسيجر اوږدوالي د فساد لپاره موکه برابره کړيده.<br>-د درملو واردونکو شرکتونو او درملتونونو د محدوديت لپاره د پاليسی او دقيق پلان نشتوالی.<br>-د قانون څخه د شرکتونو د سرغړونې نه تعقيبول، پدې برخه کې د پانګونې د زياتيدو لامل ګرځيدلي.<br>-د عامې روغتيا وزارت د کارکونکو سره د سوداګريزو اړيکو د لرلو له لارې، په پروسه باندې د شرکتونو ناوړه اغيز. | -د درملو بې شميره واردونکو شرکتونو ته د جواز ورکول چې څارنه يې د څارنيزو ادارو په وس کې نده.<br>-د غيرفعالو شرکتونو لخوا د بولی په وخت کې د جواز څخه ناوړه ګټه اخيستنه.<br>-بازار ته د بې حده درملو عرضه او د تاريخ تيره درملو پلورل. | -د درملو د کلنې اړتيا د مالومولو په موخه په بازار کې د درملو د لګښت په اړه د مالوماتو راټولولو د يوه منظم سيستم رامنځته کول او د کلني پلان په چمتو کولو کې ترې ګټه اخيستل.<br>-د څارنې او ارزونې د پايلو په رڼا کې؛ د درملو د واردونکو شرکتونو د جوازونو، نوي کول.<br>-د درملو واردولو شرکت د جواز د صادرولو په پروسه کې، د شرکتونو د اغيز د مخنيوي په موخه د يو لړ ځانګړو معيارونو طرحه کول.<br>-د کور په دننه کې د درملو توليدولو فابريکو جوړولو او په دې ساحه کې د پانګونې څخه د ملاتړ په موخه، د پاليسی طرح کول. |
| د درملو جوړولو بهرنيو کمپنيو د جواز صادرول( د فارمسي رياست) | -د درملو جوړولو بهرنيو کمپنيو د ثبتولو لپاره د روښانه معيارونو او دقيقي څېړونې نشتوالی.<br>-د روغتيا د نړيوال سازمان د معيارونو سره سم، د بهرنيو کمپنيو د توليداتو د کيفيت د څارنې او معاينې په برخه کې د وړتيا کموالی. | -۴۵۰ څخه زياتو کمپنيو ته د جواز صادرول چې د دې کمپنيو له ډلې يو شمير يې په خپلو هيوادونو کې د روغتيا د نړيوال سازمان د معيارونو سره برابر ندي او د دې ټولو کمپنيو په توليد شوو درملو څارنې، د څارنيزو ادارو لپاره ستونزې زيږولې دي. | - د بهرنيو کمپنيو د توليداتو کلنۍ ارزونه او د ارزونې د پايلو په رڼا کې د جواز لغوه کول او يا تمديد.<br>- د کمپنيو د جواز د لغوه کولواو يا تمديد لپاره د يوې پاليسی په ترڅ کې د روښانه معيارونو طرح کول.<br>- بهرنيو کمپنيو ته د جواز د ورکړې څخه وړاندې، پدې هکله د فارمسستانو د وړتيا وده تر څو وکړای شي په ښه ډول د نوموړو کمپنيو د توليداتو څخه څارنه وکړي. |
| نمونه اخيستل او د درملو د کيفيت کنترول( | -غير فني نمونه اخيستنه.<br>-د کيفيت د کنترول په لابراتوار کې، د څارنې او | -د لارې په اوږدو کې په نمونه کې د درغلی شونتيا<br>- د کافي څارنې د نه شتون | - د درملو د نمونې اخيستنې لپاره د يوه ځانګړي طرزالعمل چمتو او پلي کول.<br>- په لابراتوار کې د درملو د معاينه کولو د |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د فارمسي رياست، د کيفيت د کنترول رياست او د ولايتونو د عامې روغتيا رياستونه) | ارزونې د اړينو معيارونو نشتوالی.<br>-په لابراتوار کې د اړينو سامان آلاتو او د کارکونکو د وړتيا کموالی. | له امله د لابراتوار په اصلي پايلو کې د درغلۍ سونتيا<br>- د دندې په ترسره کولو کې ناغيري او د معاينه کولو د پروسې زيات وخت نيول. | پروسې د څارنې په موخه د يوه څارنيز ميکانيزم رامنځته کول.<br>-د لابراتوار د کارکونکو د وړتيا وده او لابراتوار ته د اړينو سامان الاتو رانيول. |
| شرکتونو ته د درملو د خرڅولو لپاره د قيمت ټاکنه(د فارمسي رياست) | -د پيرودلو په بيل او پروفورمې په ثبت شوي قيمت کې د درغلۍ د مخنيوي په موخه د يوه ميکانيزم نشتوالی. | -په بازار کې د بې شميره نرخونو د شتون له امله، د پيرودلو په بيل کې د درغلۍ او د ماليې د کمولو لپاره د بډو ورکولو شونتيا. | -په بازار کې د نرخ اخيستنې او يا ايميل د لارې د پيرودلو د بيل د تاييد په موخه د يوه ميکانيزم رامنځته کول.<br>-د درملو په ليبل کې د خرڅلاو د قيمت د ثبتولو د لارې، د قانون د مادو د پلي کولو په موخه د يوه پلان طرح کول. |

## 6. پايله:

په افغانستان کې د درملو د واردولو پروسه د اړوند دولتي ادارو او خصوصي شرکتونو د غيرقانوني کړنو او ناوړه ګټې اخيستنې سره لاس او ګريوان ده چې دا لاسوهنې د فارمسي د چارو د بې ګټې توب، د درملو د کيفيت د کمزورتيا او د هيوادوالو د روغتيا د خرابوالي لامل ګرځيدلي دي. په حقوقي چوکاټ ، تشکيلاتي جوړښت، د څارنې په تړاو د کارکونکو په وړتيا او د کيفيت د کنترول په برخه کې شته ستونزو، د ناوړه ګټې اخيستنې لپاره موکه برابره کړيده. په پروسه کې د سمون د راوستلو او هغه فرصتونو د کمولو په موخه چې غيرقانوني کړنو ته يې لاره اواره کړيده، بايد سرغړونکي شرکتونه او چارواکي تر عدلي تعقيب لاندې ونيول شي.

د فساد پر وړاندې د زيانمننو د ارزونې د پلاوي سپارښتنې د درملو د مديريت په اړه دوه مهمې موضوع ګانې رانغاړي. لومړۍ موضوع د تشکيلاتي جوړښت د بيا کتنې، د درملو د جواز د صادرولو او پروفورمې د ثبت د پروسو د سمون او حقوقي نيمګړتياو د له منځه وړلو د لارې، په بازار کې د شته مختلفو درملو د متفاوتو انواعو محدودول. تر څو چې د درملو مختلف انواع محدود نشي هيڅ ډول هر اړخيز تشکيلاتي سمون هم نشي کولای چې اغيزناک واقع شي.

دوهمه موضوع، د درملو د کيفيت د ارزولو په تړاو د کارکونکو ټيټه فني او څارنيزه وړتيا ده چې بايد د له منځه وړلو لپاره يې جدي اقدامات وشي تر څو داډ تر لاسه شي چې د درملو واردونکي شرکتونه هيواد ته د لوړ کيفيت درمل واردوي او وارد شوي درمل د کيفيت له پلوه په ښه توګه ارزول کيږي.

د يادولو وړ ده چې د پراخه بنسټيزه سمون لپاره ، پدې رپوټ کې وړاندې شوې سپارښتنې کفايت نه کوي. د افغانستان د دولت ژمنتيا د بشري حقوقو يو شمير ارزښتونو ته، دولت پدې اړباسي چې د هغو کړنو ملاتړ وکړي چې د وګړو د بشري حقونو د تامين لامل ګرځي. د ملګرو ملتونو د ټولنيزو حقوقو او اقتصاد کنوانسيون(UNCESR) د ۱۲ مادې پر بنسټ؛ د فزيکي او رواني روغتيا بهترو معيارونو ته لاسرسي يو د دې ارزښتونو څخه دی. د نوموړي کنوانسيون د ۱۴ مادې پر بنسټ،دا د افغانستان د دولت دنده ده چې خپل اتباع د بې کيفيته درملو د منفي آغيز څخه وساتي. په افغانستان کې د مړينې او ناروغيو مختلفو لاملونو ته په پام او د دې بشري حق د ساتنې په موخه بايد د درملو د واردولو پروسه کې د فساد له منځه وړل د دولت په لومړيتوب کې وي.

**اخځلیک:**


1. په وبسایټونو کې رسنیز خپاره شوي رپوټونه؛
2. د ولس مشر د ۴۵ ګڼې فرمان د پلې کولو په اړه د چارو اداري او د وزیرانو شورا دارالانشاء ته د فارمسي ریاست ځانګړی رپوټ؛
3. د عامې روغتیا قانون(۱۳۸۵ لمریز کال د کب۵)؛
4. د افغانستان د ملي ستندرد قانون(۱۳۹۲کال د غبرګولي۱۱)؛
5. د افغانستان د عامه تدارکاتو قانون(۱۳۸۷)؛
6. د درملو قانون(۱۳۸۵ کال د کب ۵)؛
7. د درملو د جوړولو، واردولو او طبي سامان آلاتو د واردولو مقرره(۱۳۸۵ کال د کب۵) ؛
8. د درملتونونو مقرره(۱۳۸۵ کال د کب۵)؛
9. د مجازو درملو لست(۱۳۸۶ کال د لیندۍ میاشت)؛
10. د درملو او طبي سامان آلاتو د واردولو پروسیجر ؛
11. ګمرکي ترخیص د کاري بهیر د بشپړولو پروسیجر؛
12. د پروفورمې د ثبت او جواز د صادرولو د څېړلو په تړاو د یوې دوسیې مطالعه؛
13. د عامې روغتیا وزارت، د سوداګرۍ وزارت، د ګمرکونو د ریاست، د سرحدي ولایتونو د روغتیا ریاستونو، ولایتي ګمرکونو کارکونکو او سوداګرو سره مرکې؛
14. د ۲۵ تنو دولتي مامورینو او خصوصي سکتور له استازو سره مرکې؛
15. ګردي میزونه او ځانګړې غونډې؛
16. د پروسې د مختلفو پړاوونو څخه د ارزوني د پلاوي نیغ په نیغه کتنې؛
17. Afghanistan Medicine Sampling and testing- a quantitative Survey SPS, 2011
18. National Pharmaceutical Human Resources strtigic Framework (2013-2017) SPS
19. Pharmaceutical Country Profile (MoPH and WHO) 2011
20. Good Governance for Medicines Phase I- WHO 24 June 2014